# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

# (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/٦/۲۰



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

کابل کې د پانګونې د جذب او د افغانستان بریښنا سکټور ملاتړ کنفرانس

# کابل کې د پانګونې د جذب او د افغانستان بریښنا سکټور ملاتړ کنفرانس




کابل کې د روانې اوونۍ په سر کې د افغانستان بریښنا شرکت له لوري "د پانګونې جذب او د افغانستان بریښنا سکټور ملاتړ" تر عنوان لاندې یو ملي کنفرانس جوړ شوی و.

په دغه ملي کنفرانس کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د امارتي شرکتونو لوی ریاست رییس مولوي احمد جان بلال، د چارو اداري لوی رییس شیخ نورالحق انور، د کابینې یو شمېر وزیرانو، د ازبیکستان، ترکمنستان او تاجکستان بریښنا وزیرانو او مسوولینو او د لسګونو ملي پانګوالو سربېره د ۲۲ هېوادونو پانګوالو ګډون کړی و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وویل، افغانستان د لویو، متوسطو او کوچنیو پانګونو له پاره پراخ او لوی ظرفیتونه لري او د تولیدي منابعو د خامو موادو د کافي ذخایرو درلودو له امله غني هېواد بلل کېږي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دغه کنفرانس مهم وباله او ویې ویل چې دغه کنفرانس به د تطبیق وړ پایلو په ترلاسه کولو سره په ښه ډول پای ته ورسېږي.

محترم ملا عبدالسلام حنفي په خپلې وینا کې وویل، دا کنفرانس د افغانستان، ګاونډیو هېوادونو او سیمې له پاره مهم دی او په وینا یې، هغه فرصت چې په هېواد کې له نیمې پېړۍ جنګ وروسته رامنځته شوی، واقعاً د ملاتړ وړ دی.

یاد کنفرانس چې په کابل کې په انټرکانټیننټل هوټل کې جوړ شوی و، دوه ورځې یې دوام وکړ.

دغه کنفرانس د افغانستان د بریښنا سکټور د پیاوړتیا له پاره ډېر مهم و. په کنفرانس کې په هېواد کې د بریښنا سکټور کې په شته فرصتونو او په دې سکټور کې د پانګونې په اړه خبرې وشوې. ګډونوالو ته روښانه شوه چې په افغانستان کې په دې سکټور کې د پانګونې ښه فرصتونه شته چې کورني او بهرني پانګوال ترې ښه استفاده کولی شي.

په دې کنفرانس کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په حضور کې د افغانستان بریښنا شرکت او یو شمېر پانګوالو ترمنځ د ۹۱۲۳ میګاواټه په ظرفیت د بریښنا د تولید او بریښنایي زیربناوو جوړولو تفاهمنامې او د ۲۸۴ میګاواټه په ظرفیت د بریښنا د تولید قراردادونه لاسلیک شول.

افغانستان چې د بریښنا کمښت په کې یوه جدي ستونزه ده، د بریښنا سکټور کې ډېرې پانګونې ته اړتیا لري. د هېواد اقتصادي وروسته پاتې والي یو لامل د صنعتي فعالیتونو له پاره د کافي بریښنا نه شتون دی.

سره له دې چې په هېواد کې د بریښنا د تولید ډېر ظرفیت شته، خو کافي استفاده ترې نه ده شوې. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د بریښنا سکټور ته کافي پانګونه جذب کړي، څو په هېواد کې د لمریزې، بادي، اوبو او د بریښنا د تولید له نورو سرچینو څخه بریښنا تولید شي او د هېواد د بریښنا د کمښت ستونزه حل شي.

په وروستیو کې د اسلامي امارت د مسوولینو په هڅو د بریښنا سکټور کې ډېره پانګونه جذب شوې. په کابل، هرات، بلخ، ننګرهار او لغمان کې د بریښنا د تولید یو شمېر پروژې پیل شوې دي. دغه راز، د عزیزي انرژۍ ګروپ له لوري هم د لس میلیارده ډالرو په ارزښت د لس زره میګاواټه بریښنا د تولید تفاهمنامه لاسلیک شوې چې عملي چارې به یې ژر پیل شي.

افغانستان د بریښنا د تولید لوړ ظرفیت لري چې نه یوازې د افغانستان اړتیا پوره کولی شي، بلکې کولی شي چې نورو هېوادونو ته یې هم صادره کړي او له دې لارې کولی شي چې هر کال ډېر عاید ترلاسه کړي.

که د بریښنا په سکټور کې شوې تفاهمنامې عملي شي، افغانستان به د بریښنا سکټور کې د سیمې د بریښنا د یو لوی صادروونکي هېواد په توګه راڅرګند شي.

د بریښنا د تولید او په دې سکټور کې د پانګونې د جذب کنفرانسونه کولی شي چې نوره پانګونه جذب کړي او افغانستان د بریښنا له لوري خودکفایي ته ورسېږي.